# د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز څېړل موردي مطالعه؛ کابل پوهنتون ۱۳۹۸

**پوهنمل محمد طاهر خپلواک**

د ارواپوهنې او روزنیزو علومو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځي، لوګر پوهنتون، لوګر، افغانستان
ایمیل: tahirkhpalwak@gmail.com

**لنډیز**

د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز تر سرلیک لاندې څېړنه په کابل پوهنتون کې شوې، اصلي موخهیې د استادانو غالب مدیریتي سبک پېژندل او پرمدیریتي سبک د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز څېړل دي. څېړنه د مېتود له نظره رابطهاي، د موخې له نظره عملي، د اطلاعاتو له اړخه کمي او د ځای له نظره ساحوي ده. دڅېړنې ګډونوال، د کابل پوهنتون استادان دي، چې شمېرېې ۹۰۷ تنه دی، ۷۱۷ تنه نارینه او ۱۹۰ تنه ښځینه دي. د کوکران فورمول پرمټ ۲۷۰ تنه دنمونې په توګه ټاکل شوي. اطلاعات د ولفګانګ او ګلېکمن(۲۰۰۸) پوښتنپاڼې پهواسطه را ټول شوي او د(SPSS) پرمټ تحلیل شوي. پایلو وښوده چې د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیریتي سبک (لاسوهونکی سبک) دی. ښځینه د نارینه په نسبت، ډېرې لاسوهونکي سبک ته تمایل لري. د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادان تعاملي‌سبک؛ خو د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادان مداخله‌ګرسبک لري.

**کلیدی‌اصطلاحات**: درسي ټولګی؛ مدیریتي سبک؛ استادانو جنسیت؛ تحصیلي رشته؛ او کابل پوهنتون

# Investigating the Impact of Professors' Gender and Educational Discipline on Classroom Management Styles: A Case Study: Kabul University 2020 /1398

**Sr. Teaching Asstt. Tahir Khpalwak**

Department of Psychology and Educational Sciences, Faculty of Psychology, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: tahirkhpalwak@gmail.com

**Abstract**

The research titled Investigating the Effect of Professors' Gender and educational discipline on classroom management styles was conducted at Kabul University. The research method is correlational, applied in terms of purpose, quantitative in terms of information, and field research in terms of location. The research respondents are 907 professors at Kabul University, of which 717 are males, and 190 are females. Two hundred seventy respondents were selected as a sample. Data was collected through an adapted version of Wolfgang and Glickman's (2008) questionnaire and analyzed using SPSS. The results revealed that the dominant management style of professors at Kabul University was interventionist style. Female professors tend to have a more interventionist style than male professors. Social sciences-related faculties professors used an interactive style, but the professors of natural science-related faculties used an interventionist style.

**Keywords**: Classroom; Management Style; Gender of Professor; Educational discipline; and Kabul University

**سریزه**

استادي او درس ورکول له سختو او پېچلو چارو څخه ګڼل کېږي؛ ځکه په تدریس کې پر تخصصي پوهې او معلوماتو سربېره، هر استاد باید د تدریس له هنر او تجربې څخه هم برخمن وي. د استادۍ لپاره مختلف مهارتونه مهم دي، یو له هغو مهارتونو څخه د درسي ټولګي د مدیریت کولو مهارت دی(افشارنیا او همکاران، ۱۳۹۷). په تدریس کې د استادانو تخصصي پوهه هغه وخت ښه اغېز لرلای شي، چې په درسي ټولګي کې مناسبو مدیریتي سبکونه وکاروي. د ښه استاد له ځانګړنو څخه یوه دا ده، چې ټولګی په تعاملي ډول اداره کړي. د درسي ټولګي سالم مدیریت هغه بهیر دی، چې له محصلینو سره په ټولو ( فېزیکي، احساسي، معنوي، عقلي او چاپېریالي) برخو کې مرسته کوي او د هغوی د ودې او پرمختګ لپاره فرصت برابروي(ناکامورا، ۲۰۰۰). کولای شو، د درسي ټولګي مدیریت «د زده‌کړې لپاره د اړینو شرایطو برابرونه» تعریف کړو؛ نو دا پایله ترلاسه کولای شو، چې د درسي ټولګي مدیریتي سبکونه او مهارتونه په تدریس کې د بشپړ بري بنسټ دی(افشارنیا او همکاران، ۱۳۹۷، ص۷۵). په درسي ټولګي کې د استاد مدیریتي سبک له هغو لاملونو څخه دی، چې د محصلانو په انګېزه او زده‌کړه ییز پرمختګ کې مهم رول لرلای شي(سیف، ۱۳۸۸). د اغېزناک تدریس او زده‌کړې لپاره، په درسي ټولګي کې د استاد مدیریتي سبک مهم‌والي ته په پام سره او دا چې په نوموړې برخه کې څېړنې نه دي شوي؛ نو د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز معلوملو په موخه دا څېړنه په کابل پوهنتون کې شوې ده.

**د مسئلې بیان**

څېړنې ښيي چې په درسي ټولګي کې د ښوونکو پر وړاندې یوه له تر ټولو لویو ستونزو څخه د چارو مدیریت دی. د څېړنو له مخې د ښوونکو په کاري چاپېریال کې تر ټولو ډېر سټرېس لرونکی عامل، د زده‌کوونکو انضباطي ستونزې دي(مصر ابادي، ۱۳۹۴، ص۱۹۰). په بریتانیا، نیوزیلنډ، اسټرالیا او امریکا کې ترسره شویو څېړنو کې د ټولو ښوونکو له ۱ پر ۳ برخې سره مرکې شوې، هغوی تدریس یو سټرېس‌لرونکی فعالیت بللی(پیټرسون او سوډن، ۱۹۹۸). د درسي ټولګي مدیریت د ښوونکي د هغو کړنو څخه دی، چې تر ټولو ډېر وخت نیسي. کله چې د ټولګي ډېر وخت په انضباطي ستونزو مصرفېږي، په عملي ډول د تدریس او زده‌کړې لپاره لږ وخت پاتې کېږي(افشارنیا او همکاران، ۱۳۹۷، ص۷۳). د درسي ټولګي د عناصرو له منځه، د استاد او مدیریتي سبک رول، د ښوونیزو موخو په ترلاسه کولو او د ننني نړۍ سره متناسب زده‌کوونکو روزلو کې ډېر مهم او بنسټي رول لري. ښوونکي په درسي ټولګیو کې باید د زده‌کوونکو د شخصیتي ځانګړنو متناسب مدیریتي سبکونه او تدریس مېتودونه په داسې ډول

وړاکي چې زده‌کوونکي په درسي ټولګي کې دا فرصت پیدا کړي، چې د عمل له لارې مختلف مهارتونه زده کړي (خلباني او همکاران، ۱۳۸۹).

د درسي ټولګي ناسم مدیریتي سبک د ټولو زده‌کوونکو په زده‌کړه کې د ګډوډۍ سبب کېږي. زده‌کوونکي د زده‌کړې ډېرې وخت له دې امله له لاسه ورکوي، چې ښوونکی له (۵۰) سلنې ډېر وخت د زده‌کوونکو د کړنو په مدیریت او د ټولګي په کنټرول تېروي (آدیمو، ۲۰۱۲). په همدې دلیل، د لانګ، فریاو وین استین په خبره، د «ټولګي مدیریت» د زده‌کړې په موخه د تر ټولو ښه چاپېریال رامنځته کول، د ښوونکو په ټولو مسوولیتونو کې لومړیتوب لري (مارتین او شوهو، ۲۰۰۳).

پوهانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکون ډلبندي کړي دي. د هغوی له ډلې ولفګانګ او ګلېکمن په خپل کتاب «د ټولګي د انضباطي مسالو حل» کې د ټولګي مدیریتي سبکونه په درې برخو وېشلي دي: لاسوهونکی، نالاسوهونکی او د جوړجاړي سبک. په دې سبکونو کې هرڅومره چې له لاسوهونکي سبک څخه د نالاسوهونکي سبک خوا ته نژدې کېږو، د کنټرول کچه ټیټېږي او په مقابل کې په ټولګي کې د محصلینو مسوولیت او ګډون زیاتېږي (عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص ۱۰۸).

په افغانستان کې د استادانو د درسي ټولګي د مدیریتي سبکونو برخه کې څېړنه نه ده شوې. معلومه نه‌ده چې د پوهنتون، په تېره د کابل پوهنتون استادان کوم مدیریتي سبک کاروي. له بلخوا د استادانو دموګرافیکي ځانګړنې د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک څه اغېز لري. نو د همدې مسئلې د روښانولو او حل لپاره یاده څېړنه، د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیریتي سبک پېژندنې او د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز څېړلو په موخه په کابل پوهنتون کې ترسره شوه. یادې څېړنې پوښتنو ته ځواب پیدا کړی، چې په وروسته‌یې په تفصیل راوړل شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او اړتیا

د هر نظام کیفیت د هغه د ښوونیز او زده‌کړه‌ییز نظام کیفیت سره تړاو لري او د هر ښوونیز او تحصیلي نظام کیفیت د هغوی د ښوونکو او استادانو د کار په کیفیت پورې تړلی دی (شمس، ۱۳۹۶، ص۸). بې له شکه چې د ښوونې ـ روزنې او تدریس موخو ترلاسه کولو لپاره شرایط اړین دی. د دې شرایطو له ډلې کولای شو، پر درسي ټولګي حاکم نظم ـ انضباط او مدیریت ته اشاره وکړو؛ ځکه هغه ټولګي چې په هغه کې د زده‌کړې لومړنی ګام (نظم او انضباط، په فعالیتونو کې د زده‌کوونکو فعال ګډون او فعاله توجه) تأمین نه شي، په یقین سره چې مطلوبې پایلې او موخې نه ترلاسه کېږي (محمودي او همکاران، ۱۳۹۶، ص۲۳). د درسي ټولګي مدیریت، د ښوونیز مدیریت لومړۍ سطح ده، چې د لوړو سطحو پایه او بنسټ ګڼل کېږي، او د تدریس په بهیر، د زده‌کوونکو د شخصیت په جوړښت، د هغوی د ذهني، عاطفي،

ښوونيز او روزنيز بهير او ښوونيز نظام په کيفي لوړاوي کې بنسټي رول لري(غياثونديان او همکاران، ۱۳۹۶، ص۱۴).

څېړنې ښيي چې په درسي ټولګي کې د استادانو د رهبرۍ او مديريت سبکونه د زده‌کوونکو په بري، زده‌کړه‌ييز پرمختګ، درسي بوختيا او انګېزې ايجادولو کې بنسټي رول لوبوي(کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ص۳۲). او په زده‌کوونکو کې د انګېزې رامنځته کولو په موخه د درسي ټولګي مديريتي سبک خورا مهم عنصر دی(جويس، ۱۳۷۶، ص77). هغه څېړنه چې د وانګ، هرتل او والبرګ په وسيله په (۱۳۹۳) کال کې ترسره شوې، پايلې‌يې ښيي. چې د درسي ټولګي مديريتي سبک پر زده‌کړه يو له تر ټولو اغېزناکو عواملو څخه دی. که استاد په اغېزناک ډول د درسي ټولګي مديريت وړتيا ونه لري، لرې نه ده چې نور مهارتونه به يې بې اغېز شي. په ټوله کې ګڼو څېړنو د ټولګي عوامل او د استادانو ځانګړنې پر مديريتي سبک د اهميت وړ ګڼي.

دا څېړنه پر دې دلايلو مهمه ده؛ لومړی تر اوسه د هېواد په دننه کې په نوموړې برخه کې هېڅ څېړنه نه ده شوې، په داسې حال کې چې د استاد د تدريس او زده‌کوونکو د زده‌کړو کيفيت لپاره د درسي ټولګي مديريتي سبک تر ټولو مهم عنصر دی. بل دا چې د دې څېړنې په ترسره کېدو سره به مسئله روښانه شي چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مديريتي سبک کوم دی او د استادانو ځانګړنې د درسي ټولګي مديريتي سبک سره څه ډول اړيکه لري؟ د دې متغييرونو د اړيکې په اړه د يوې علمي څېړنې نه شتون، دا ايجابول چې ياده څېړنه ترسره شي. همدا راز، ياده څېړنه د ټول پوهنتون او استادانو لپاره خورا ارزښت لري او د څېړنې له پايلو څخه هم استادان او هم پوهنتون ګټه اخلي.

## څېړنې موخې

**اصلي موخه:** د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مديريتي سبک پېژندنه او د درسي ټولګي پر مديريتي سبکونو د استادانو د جنسيت او تحصيلي رشتې اغېز څېړل

## د څېړنې فرعي موخې

1. د جنسيت له مخې د استادانو د درسي ټولګي مديريتي سبک ترمنځ توپير معلومول؛
2. د تحصيلي رشتې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مديريتي سبک ترمنځ توپير معلومول.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه**: د استادانو د درسي ټولګي غالب مديريتي سبک کوم دی او د درسي ټولګي پر مديريتي سبکونو د استادانو جنسيت او تحصيلي رشته څه اغېز لري؟

**فرعي پوښتنې**

1. آیا د جنسیت له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر شته؟
2. د تحصیلي رشتې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر څه دی؟

**د درسي ټولګي مدیریت معنی او مفهوم**

درسي ټولګی هغه ځای دی چې په هغه کې هره ورځ ګڼ شمېر زده‌کوونکي په ساعتونو کولای شی یو د بل ترڅنګ کښني، یو له بل سره تعامل ولري او یو له بل څخه مختلف موضوعات زده کړي.

د ټولګي مدیریت، د یوې مناسبې فضا رامنځته کول دي، چې زده‌کوونکي پکې په ډېره ارامۍ او نظم زده‌کړه وکړي. یا د درسي ټولګي مدیریت له ګڼ شمېر پلانونو او اقداماتو څخه عبارت دی، چې ښوونکی‌یې په درسي ټولګي کې د زده‌کړې د اسانتیا او چټکتیا لەپاره ترسره کوي(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲؛ د رئوفي، ۱۳۸۰ له قوله). د اغېزمنې زده‌کړې لەپاره د درسي ټولګي مدیریت، سریزه او یوه مخکینۍ اړتیا ده(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲، ص۲۳۵).

یو شمېر ښوونکي مدیریت او انضباط یو ډول بولي؛ خو اړینه ده چې ووایو مدیریت او انضباط یو له بل سره توپیر لري. انضباط د زده‌کوونکو سکوت، ارامتیا او د ښوونکي خبرو ته غوږ نیول نه‌دي. ځکه چې د ټولګي فضا باید متنوع، دوستانه او له مینې ډکه وي، په داسې ډول چې هر زده‌کوونکی د ارامۍ احساس وکړي او له ټولګي سره تړاو ولري. انضباط د ښوونکي هغو کړنو ته ویل کېږي، چې د زده‌کوونکو د اخلالګرو کړنو مانع ګرځي. هغه کړنې چې د ټولګي فعالیت له خنډ او ګواښ سره مخامخوي. د درسي ټولګي مدیریت د درسي ټولګي د انضباط په نسبت پراخ مفهوم لري؛ ځکه چې ترسره شویو مطالعاتو ته په کتو، د درسي ټولګي د مدیریت څخه منظور، د داسې شرایطو او موقعیتونو ایجادول دي، چې ښوونکی‌یې د نظم او ارامۍ د رامنځته کولو، د زده‌کوونکو د پام وراړونې، د درسي فعالیتونو د تنظیمولو او د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو د ګډون لەپاره، مطلوبو او پام وړ موخو ته د رسېدلو لەپاره برابري(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲، ص۲۳۶).

ولفګانګ wolfgang او ګلیکمن Glicman (۱۹۸٦) د درسي ټولګي مدیر یت جامع او دقیق تعریف وړاندې کړی؛ د هغوی په خبره (د درسي ټولګي مدیریت، یعنې د ټولګي ټولو فعالیتونو«ټولنیز تعاملات، زده‌کوونکو کړنې او زده‌کړه» د سرپرستۍ لپاره د ښوونکي ټول کوښښونه دي)(ظریفي او فرجي، ۱۳۹۳، ص۴۱). ولفګانګ او ګلېکمن، د ټولګي مدیریت لپاره څلور اړخونه په پام کې نیولي دی، چې عبارت دي له: روانپېژندیز چاپېریال«د زده‌کوونکو تعاملات»، تعلیم«د تدریس منظموالی»، اړیکې«فیډبک سیستم» او د ټولګي جوړښت«قوانین او ستونزې».

## د درسي ټولګي مديريت سبکونه

ولفګانګ، د درسي ټولګي د مديريت درې سبکونه وړاندې کړي، چې عبارت دي له: مداخله‌ګر سبک، تعاملي سبک او غير مداخله‌ګر سبک. په دغو سبکونو کې هر څومره چې د مداخله کولو څخه د نه مداخلې خوا ته لاړ شو، د کنټرول کچه لږ او په مقابل کې په درسي ټولګي کې د زده‌کوونکو ګډون او مسئوليت زياتېږي(امين يزدي او عالي، ۱۳۸۷). په لاندې کې هر سبک په لنډ ډول تشريح شوی دی.

## مداخله‌ګر سبک

مداخله‌ګر سبک، د غير مداخله‌ګر سبک پر وړاندې ځای لري. د دغه سبک له مخې، بهرني چاپېريال، ودې ته شکل ورکوي يا وده رامنځته کوي. عملي مکتب«چلنپالنه» د دغه سبک تيوريک بنسټ دی. د سکينر او پاولوف نظريه له لومړنيو نظريو څخه ده، چې په ارواپوهنه کې منځته راغلې. کلاسيک شرطي کېدل، فعال شرطي کېدل، تنبيه، تقويت، محرک او ... د دې مکتب کليدي اصطلاحګانې دي. چلنپالی ښوونکی د زده‌کوونکو د بدو کړنو علت، د بهرني چاپېريال اغېز بولي او د دې باور پر بنسټ کوښښ کوي چې د زده‌کوونکي کړنې د تغيير او ښه والي خوا ته هدايت او کنټرول کړي. د مداخله‌ګر سبک پر بنسټ د ټولګي مديريت له مشهورو نظريو څخه يوه د لي‌کانټر د«جرأت ورکولو انضباط » نظريه ده. د ده په عقيده يو جرأت ورکوونکی استاد، هغه استاد دی چې خپلې غوښتنې په څرګند او روښانه ډول بيانوي او د هغوی د ترسره کولو او يا نه ترسره کولو له پايلو خبر وي او په تېروتنو سترګې نه پټوي. د هر انضباطي سيستم اغېزمنتوب، د ښوونکي او زده‌کوونکي په مؤدبانه او مرستندويه اړيکو په ساتلو پورې تړلی.

مداخله‌ګر ښوونکی هڅه کوي چې د زده‌کوونکو د فعاليتونو او کړنو په کنټرول او څارنې سره او د ټولګي په انضباط او قوانينو تأکيد له لارې ښوونيزې موخې ترلاسه کړي(عالي او يزدي، 1385، صص ۱۱۴- ۱۱۵؛ د بيلي، ۲۰۰۰ له قوله). مداخله‌ګر ښوونکی د انضباطي قوانينو په تعيينولو او اجرا سره، د زده‌کوونکو د نامطلوبو کړنو د کمولو او درسي ټولګي تصميم نيونو کې د زده‌کوونکو د نه ګډون لپاره د ټولګي د اداره کولو او زده‌کوونکو پر کړنو د څارنې مسئوليت پر خپله غاړه اخلي. په دې ډول فضا کې زده‌کوونکي هېڅ واک او مسئوليت نه احساسوي او په دې اند دي، چې يوازې ښوونکی کولای شي د هغوی کړنې کنټرول، څار«نظارت» او سمې«اصلاح» کړي(رضايت او ګلي، ۱۳۹۵، ص۵۷).

### د جوړجاړي (تعاملي) سبک

د جوړ جاړي سبک د مداخله‌گر او غیر مداخله‌گر سبکونو ترمنځ منځنی حد دی. دا سبک د ټولنیزې ارواپوهنې مکتب پر بنسټ هم پر هغو کړنو ټینګار کوي، چې فرد یې د چاپېریال د بدلون لپاره ترسره کوي او هم چاپېریالي عواملو ته پام کوي، چې فرد اغېزمنوي. د جوړجاړي پلوه سبک نظري اصول، الفرد آدل او درېکرز پراخ کړي او ویلیام گلسر د دې سبک نظري چوکاټ منځته راوړی دی. د آلبرټ (۱۹۸۹) د(مشارکتي انضباط نظریه) او گودرکول(۱۹۹۰) قضاوتي انضباط دواړه د تعاملي تفکر پر بنسټ د ټولګي مدیریت ماډلونه دي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص۱۱٦؛ د مارتین او بالدوین، ۱۹۹٦ له قوله). گلسټر ټینګار کوي چې زده‌کوونکي په ښوونځي کې د زده‌کړې مسوول دي او ښوونکی باید له هغوی سره مرسته وکړي، څو ښې کړنې ترسره کړي. د گلسټر په نظریه کې د مناسبو یا نامناسبو کړنو په اړه د ټولګي قوانین د ټولګي په مشارکتي غونډه کې ټاکل کېږي. په دې ډول ټولګي کې، کنټرول او انضباط د ښوونکي او زده‌کوونکو ترمنځ د یو متقابل بهیر په ډول منځته راځي او زده‌کوونکي د ټولګي په پلانونو او نظم کې ونډه لري. ښوونکی زده‌کوونکو ته فرصت ورکوي، چې پر خپلو کړنو څارنه او په اړه‌یې قضاوت وکړي. په‌دې ډول ټولګي کې ارزونه هم د یوې دوه طرفه مذاکرې په جریان کې ترسره کېږي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص۱۱۵؛ د گسټر، ۱۹٦۹ په قول). تعاملي سبک کې، نه د مداخله‌گر سبک په ډول، معلم ـ محور دی او نه د غیر مداخله‌گر سبک په ډول شاګرد- محور؛ بلکې مرسته محور دی، چې مرسته او همکاري پکې بنسټي اصل دی(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص۱۱۵). دغه سبک ته په کتو سره، تعاملي ښوونکی هغه څوک دی، چې د ټولګي مسایل له زده‌کوونکو سره د مذاکرې او منطقي استدلال له لارې حلوي(عالي او امین یزدي، ۱۳۸۷).

### نالاسوهونکی(غیر مداخله‌گر) سبک

په نالاسوهونکي سبک کې د انسان پلویانو د باور پر بنسټ ویل کېږي، چې ماشوم د ریښتنې نړۍ د پېژندلو لپاره داخلي انگېزه لري او بهرني تحریک ته اړتیا نه لري؛ ځکه چې وده تر غریزې لاندې منځته راځي. د کارل راجرز په انسان پلوي سبک کې په «غیر مشروط مثبت پام» او منلو ټینګار شوی دی. د مور یا ښوونکي لخوا د ماشوم منل او مینه مثبت او غیر مشروط دي، یعنې د ماشوم په ښه یا بده کړنه پورې نه دي مشروط. راجرز دغه پام د هر اړخیزې ودې او ځان غوړېدنې لپاره لازم او اړین گڼي؛ یعنې انسان پلوه ښوونکی، زده‌کوونکو ته نه وایي چې څه سم او څه ناسم دي، یا د مسئلې د حل لپاره باید څه ترسره شي؛ ځکه ښوونکی باور لري چې زده‌کوونکي پخپله د زده‌کړې او خپلو کړنو د کنټرول وړتیا لري. یو غیر مداخله‌گر ښوونکی باور لري، چې زده‌کوونکو ته باید فرصت او وخت ورکړ شي، چې خپله

انتخاب وکړي او خپلې زده کړې مدیریت کړي، البته دا د مطلقې ازادۍ په معنا نه ده، بلکې زده‌کوونکو ته اجازه ورکوي چې د مطالعې موادو په ټاکنه، د مطالعې او تدریس مېتود په تعیینولو او ټولګي نظم ساتلو کې ګډون ولري(عالي او یزدي، ۱۳۸۵). په لنډ ډول، په غیر مداخله‌ګر سبک کې ښوونکی په‌دې باور دی، چې مسئولیتونه باید زده‌کوونکو ته ور وسپارل شي، ترڅو هغوی په ټولګي کې د ازاد تعامل لپاره ډېر فرصت ولري او د خپلو علایقو څخه پیروي وکړي(رضایت او ګلي، ۱۳۹۵، ص۵۷).

**د څېړنې مخینه**

مارتین او همکارنو یې په کال (۱۹۹۹) کې، «د ښاري او کلیوالي منځنیو ښوونځو د نارینه او ښځینه ښوونکو د مدیریتي سبکونو توپیر» څېړلی دی. د دې څېړنې د موندنو له مخې د کلیوالو ښوونځیو ښوونکي د ښاري ښوونځیو ښوونکو په نسبت، د تعلیم مدیریت کې ډېر کنټرول کوي؛ خو د جنسیت له مخې معنا لرونکی توپیر نه دی لیدل شوی(مارتین او همکاران، ۱۹۹۹).

مارتین، ین او بالدوین په کال (۱۹۹۸) کې، «د ښوونکي درسي ټولګي مدیریت پر سبک د ښوونیزو دورو او ټولګي اندازې اغېز» مطالعه کړی دی. د دې څېړنې پایلې ښیي چې د ګڼشمېره ټولګیو او مداخله‌ګر سبک کارونې ترمنځ او د ټولګي مدیریت ښوونیزو دورو او تعاملي سبک خوا ته تمایل ترمنځ معنا لرونکې اړیکه شته(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص۱۱۸).

چامبرز او هنسون(2001)، «د شخصیت ډول او تدریس اغېزناک توب او ټولګي مدیریت» څېړلی دی، پایلې‌یې ښیي، چې د ښوونکي د شخصیت او درسي ټولګي مدیریت ترمنځ معنا لرونکې اړیکه شته. کارل(۲۰۰۴) هم «د هغو ښوونکو د مدیریت سبکونه چې ښوونیزو دورو کې‌یې زده‌کړه کړې او هغوی چې ښوونیزو دورو کې‌یې زده‌کړه نه ده کړې» څېړلي دي او دې پایلې ته رسېدلی، چې ښوونیزې دورې او حرفه‌یي وده د ښوونکو مدیریتي مهارتونو په زیاتوالي کې اغېزناک دي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص119).

شنبدي(۱۳۷٦) او فرخ نژاد(۱۳۸۰) دواړو څېړونکو «د مدیرانو له نظره د درسي ټولګي پر مدیریت اغېزناک عوامل» څېړلي دي، چې موخه‌یې د درسي ټولګي د څلورګونو عواملو(۱. درسي پلان لرل او عملي کول، ۲. تدریس مېتودونه او تګلارې، ۳. لاربښوونه، هڅونه او انګېزه ورکونه ۴. د زده‌کوونکو پر کړنو همېشنی څار او ارزونه) د اغېز کچه معلومول دي. همدارنګه، د «جنسیت، تدریس مخینې، زده‌کړو څانګه او زده‌کړو کچه» متغییرونو ته په پامنیوي د مدیرانو نظریاتو توپیر مطالعه کړی دی. د څېړنې پایلې ښیي چې د ذکر شویو متغییرونو پر بنسټ د مدیرانو نظریاتو ترمنځ د څلور ګونو عواملو په پامنیوي معنالرونکی توپیر ونه لیدل شو؛ خو ښځینه مدیرانو له نارینه مدیرانو ډېر د «رهبرۍ، هڅونې، انګېزه

ورکونې او زده‌کوونکو پر کړنو همېشنی څار او ارزونه» د ټولګي مدیریت د ښه‌والي په زیاتوالي کې اغېزناک بللي دی(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ص ۱۲۰).

په هغه څېړنه کې چې «د محصلانو له نظره د بېرجند طبي علومو پوهنتون د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي وضعیت څېړل» تر سرلیک لاندې، کاظمی، سیما؛ محمدي، یحیی او رئیسون، محمد رضا په کال (۱۳۹۴) کې په ایران کې کړې، لاندې پایلې‌یې ترلاسه کړې دي:

پایلې ښیي چې ډېری استادان په ترتیب سره له جوړجاړي سبک، لاسوهونکي سبک او نالاسوهونکي سبک څخه ګټه اخیسته. د درسي ټولګي مدیریت د مداخله‌ګر سبک، تعاملي سبک او غیرمداخله‌ګر سبک ترمنځ له جنسیت سره او د درسي ټولګي مدیریت تعاملي سبک او غیر مداخله‌ګر سبک ترمنځ له تحصیلي څانګې سره معنا لرونکی توپیر درلود؛ خو د درسي ټولګي مداخله‌ګر سبک له تحصیلي څانګې سره معنالرونکی توپیر ونه لیدل شو(کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ص۳۱). د مهر، کریم زاده او ناظم، څېړنه چې د «د خوی ښار د ښوونکو او مدیرانو د درسي ټولګي پر مدیریت د اغېزناکو عواملو پېژندنه» تر سرلیک لاندې‌یې په ۱۳۹۴ کال کې کړې، دا پایله‌یې ترلاسه کړې چې د ښوونکو د کار سابقه د درسي ټولګي مدیریت پر سبکونو پاموړ اغېز لري؛ خو دوی ومونده چې د نارینه او ښځینه ښوونکو د ټولګي مدیریت په سبک کې توپیر نشته(مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ص ۱۸۰).

همداراز، بخشایش په کال ۱۳۹۲ کې «په یزد ښار د لومړنیو ښوونځیو ښوونکو د شخصیتي ځانګړنو او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو اړیکه» تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې. پایله ښیي، چې ۷۶,۷ سلنه ښوونکو تعاملي سبک درلود، ۲۳ سلنه مداخله‌ګر سبک درلود او هېڅ یوه ښوونکي غیر مداخله‌ګر سبک نه درلود. همداراز، نارینه او ښځینه ښوونکو د درسي ټولګي د مدیریت سبک له اړخه یو له بل سره توپیر نه درلود(بخشایش، ۱۳۹۲، ص۱۹۳).

ظریفي او فرجي هم په ۱۳۹۳ کال کې د «د ختیځ اذربایجان په لومړنیو او منځنیو دورو کې د بدني روزنې ښوونکو د درسي ټولګي مدیریت پرتلنه» ترسرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې. موندنې‌یې ښیي، چې په لومړنیو او منځنیو دورو کې ښوونکي په ترتیب د مداخله‌ګر، تعاملي او غیر مداخله‌ګر سبکونو خوا ته تمایل لري. له بلې خوا، د جنسیت پر بنسټ د بدني روزنې ښوونکو د درسي ټولګي مدیریت سبک پرتلنه ښیي چې په مختلفو تحصیلي دورو کې د نارینه او ښځینه ښوونکو د مدیریت سبک ترمنځ پاموړ توپیر نشته. همداراز، د څورلسم پاس، لېسانس او ماستر ښوونکو مدیریتي سبکونه توپیر لري. څورلسم پاس ښوونکي تر ډېره تعاملي او مداخله‌ګر سبکونه کاروي او ماستر ښوونکي ډېری تعاملي او غیر مداخله‌ګر سبکونو خواته تمایل لري(ظریفي او رضا، ۱۳۹۳؛ صص ۴۰، ۴۶). عالي او یزدي(۱۳۸۵) «د

ټولګي پر مدیریتي سبک د ښوونکیو د ځانګړنو اغېز» تر سرلیک لاندې څېړنه کې چې په مشهد ښار کې یې ترسره کړې، لاندې پایلې ترلاسه کړې:

د زده‌کړو کچې پر بنسټ د ښوونکو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ معنالرونکی توپیر نه و؛ یعنې لېسانسه ښوونکي تر ډېره د ټولګي د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري، په داسې حال کې چې دوولسم پاس ښوونکو له مداخله‌ګر سبک سره علاقه لرله. همداراز، د تحصیلي رشتې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریت سبک توپیر پاموړ دی؛ یعنې هغو ښوونکو چې له ټولنیزو علومو سره اړوندو ځانګو کې یې زده‌کړې کړې، له تعاملي سبک او هغوی چې په طبیعي علومو ځانګو کې یې زده‌کړې کړې، مداخله ګر سبک خوا ته تمایل لري؛ خو د درسي ټولګي مدیریتي سبک او ښوونکو جنسیت ترمنځ پاموړ اړیکه ونه لیدل شوه(عالي او یزدي، ۱۳۹۴، ص۱۰۳).

لنګرودي او سلېماني(۱۳۹۲)، (د دموګرافیکي ځانګړنو له مخې د درسي ټولګي مدیریت په اړه د ښوونکو د باورونو او لرلیدونو پرتلنه) تر سرلیک لاندې څېړنه په ایران – یزد ښار کې ترسره کړې. پایلې ښيي چې د جنسیت له مخې د استادانو درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر نه لري. خو د زده‌کړو ځانګې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر معنالرونکی دی. په بل عبارت، هغو ښوونکو چې د ښوونې او روزنې اړوند ځانګو کې یې زده‌کړې کړې دي، ډېری تعاملي سبک ته تمایل لري او هغه ښوونکي چې د ښوونې او روزنې نااړوند ځانګو کې یې زده‌کړې کړې دي، ډېری د درسي ټولګي مداخله‌ګر سبک، سبک لري. همداراز، د زده‌کړو کچې له مخې هم د ښوونکو د درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر معنالرونکی دی؛ په‌دې معنا چې لېسانس ښوونکي د دوولس پاس او څوارلس پاس ښوونکو په نسبت تعاملي سبک ته ډېر تمایل لري(لنګرودي او سلېماني، ۱۳۹۲، ص۱۱۵).

سید عباس، په‌خپله څېړنه کې وښوده، څومره چې د ښوونکي د تدریس سابقه، عمر او زده‌کړو کچه لوړه وي، دا ډول ښوونکی پر ټولګي لږ کنټرول لري او زده‌کوونکو ته په کړنو کې ډېره ازادي ورکوي؛ یعنې له غیر مداخله‌ګر سبک ګټه اخلي( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ص ۱۸۰).

علي(۲۰۰۷) په‌خپله څېړنه کې ومونده، چې د زده‌کړو کچې پر بنسټ د ښوونکو د درسي ټولګي مدیریت سبک ترمنځ پاموړ توپیر شته؛ یعنې لېسانسه ښوونکي تر ډېره د درسي ټولګي مدیریت له تعاملي سبک سره تمایل او علاقه لري، په داسې حال کې چې د ډیپلوم سند لرونکي ښوونکي مداخله‌ګر سبک خوا ته تمایل لري. مارتین، بالدوین (۱۹۹۵) په خپله څېړنه کې ومونډله چې د ښوونکو د جنسیت او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنالرونکی توپیر نه‌شته(د امین یزدي او عالي، ۲۰۰۸ له قوله). جعفري او همکارنو یې په کال ۱۳۹۶ کې په ایران کې(دعلمي هیئت غړو د درسي ټولګي مدریت لرلید او درسي

ټولګي مديريتي وړتيا اړيکې د جوړښت نمونه) تر سرليک لاندې څېړنه کړې، پايلې ښيي چې د استادانو د ټولګي مديريت او علمي رتبې ترمنځ مثبته او معنالرونکې اړيکه شته(جعفري او همکاران، ۱۳۹٦، ص١٦).

د درسي ټولګي مديريتي سبکونو موضوع له هېواده بهر په پراخ ډول څېړل شوې ده، لېکن پهدې برخه کې داخلي څېړنې په نشت حساب دي. په هېواد کې د ننه، د يادې موضوع په اړه د څېړنو موندلو په موخه ګڼ ځايونه و لټول شول، لکه کابل پوهنتون کې د ارواپوهنې او روزنيزو علومو پوهنځی، د اروارپوهنې او روزنيزو علومو پوهنځي د ماسټرۍ پروګرام د څو کلونو ليکل شوي تېزسونه او د نوموړي پوهنځي د استادانو علمي ترفيع ګانو اثرونه او مقالې؛ کابل ښوونې او روزنې پوهنتون ماسټري پروګرامونو تېزسونه او د همدې پوهنتون د روزنيزو او مسلکي علومو پوهنځي او اروپوهنې پوهنځي د استادانو مقالې او علمي اثرونه او د ګڼو پوهنتونونو علمي مجلو کې د يادې موضوع او اړوند متغييرنو په اړه څه پيدا نه شول. يعنې پهدې برخه کې هېڅ ډول څېړنه، نهده شوې. البته کولای شو استدلال وکړو چې په څېړنه کې دا نه پاملرنه د ټولګي مديريتي سبک نظري بحثونو او سرچينو کمښت له امله ده. له بل پلوه ډېرى موجوده سرچينو د ټولګي مديريت موضوع په اختصاصي ډول نه ده راوړې؛ ځينو سرچينو د ټولګي مديريت له تدريس مېتود سره په يوه معنا بللی او ځينې نورو د ښوونيز مديريت برخه فرض کړې ده. دا د دې سبب شوي چې د ټولګي مديريت موضوع ته په څېړنو کې ډېر پام نه دی شوی.

**څېړندود**


دا څېړنه د ماهيت او مېتود له نظره يوه توصيفي- تحليلي(رابطهيي)، د موخې له نظره عملي، د ځای له نظره يوه ساحوي او د اطلاعاتو راټولو مېتود له نظره يوه کمي څېړنه ده. ياده څېړنه په کابل پوهنتون کې په ۱۳۹۸ کال کې شوې ده. د څېړنې احصايوي ټولنه د کابل پوهنتون ټول استادان دي؛ چې شمېر يې (۹۰۷) تنه دی، له دې ډلې ۷۱۷ تنه نارينه او ۱۹۰ تنه يې ښځينه دي. په دې څېړنه کې د نمونې حجم ټاکلو لپاره د کوکران فورمول څخه ګټه واخيستل شوه. له ټولټال۹۰۷ تنه استادانو څخه چې د کابل پوهنتون په ټولو ۲۱ پوهنځيو کې دنده ترسره کوي، ۲۷۰ تنه د نمونې په توګه وټاکل شول، د ډاډ کچه ۹۵ سلنه ده او د خطا کچه۵ سلنه ده. د اطلاعاتو د راټولولو لپاره د ولفګانګ او ګلېکمن(۲۰۰۸) له پوښتنپاڼې کار اخيستل شوې دی. ياده پوښتنپاڼه پينځه ويشت (۲۵) تړلې پوښتنې او درې مؤلفې لري، چې عبارت دي له: مداخلهګر سبک Interventionist Style ، تعاملي سبک Inter actionist Style او غيرمداخلهګر سبک Non-Interventionist Style. پوښتنپاڼه مخکې له دې چې ووېشل شي د کارپوه استادانو پهوسيله اصلاح شوه او د هغوی نظريات پکې مراعات شول. وروسته په ازمايښتي ډول په ۴۰ تنو ګډون کوونکو

ووېشل شوه او محتوايي صحت‌يې وسنجول شو، کرونباخ الفايي (۰،۷۸) معلومه شوه. را ټول شوي اطلاعات، د SPSS او EXCEL پروګرامونو په وسيله تجزيه او تحليل شول.

**الف) د اطلاعاتو توصيفي شننه Descriptive Statistics**

په‌دې ځای کې د SPSS پروګرام څخه په ګټې اخيستنې اطلاعات په جدولونو او شکلونو کې طبقه بندي شوي دي. لومړی د ګډونوالو دموګرافيکې ځانګړنې او وروسته د څېړنې پوښتنې تجزيه او تحليل شوې. پايلې‌يې په شکلونو کې ښودل شوې او لازم تشريحات هم ورکړل شوي دي.


**په څېړنه د ګډونوالو جنسيت**




لومړی انځور: په څېړنه کې د ګډونوالو جنسيت

پورتنی (۱) شمېره انځور ښيي، چې په څېړنه کې ټول (۲٦۸) کسانو ګډون کړی دی، چې (۲۱۰) تنه (۷۸,٦٪) معادل نارينه او (۵۸) تنه د (۲۱,٦۴٪) معادل ښځينه دي. لاسته راغلې پايلې ښيي چې په ياده څېړنه کې اکثريت نارينه استادان او اقليت ښځينه وو ګډون کړی دی.

**په ځېړنه کې د ګډونوالو د زده‌کړو کچه**





| | تولټال سلنه | تولټال شمېر | جنسیت ښځینه سلنه | جنسیت ښځینه شمېر | جنسیت نارینه سلنه | جنسیت نارینه شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لیسانس | ۱۹,٤% | ٥۲ | ٤,٥% | ۱۲ | ۱٤,۹% | ٤۰ |
| ماستر | ٦٦,٤% | ۱۷۸ | ۱٤,۹% | ٤۰ | ٥۱,٥% | ۱۳۸ |
| ډاکتر | ۱٤,۲% | ۳۸ | ۲,۲% | ٦ | ۱۱,۹% | ۳۲ |
| تولټال | ۱۰۰,۰% | ۲٦۸ | ۲۱,٦% | ٥۸ | ۷۸,٤% | ۲۱۰ |

دوم انځور: په ځېړنه کې د ګډونوالو د زده‌کړو کچه

(۲) شمېره انځور ښيي، چې په ځېړنه ۵۲ تنه (۱۹،۴٪) لېسانس استادانو ګډون کړی دی، چې ۴۰ تنه (۱۴،۹٪) يې نارينه او ۱۲ تنه (۴،۵٪) تنه‌يې ښځينه دي. ۱۷۸ تنه (٦٦،۴٪) ماستر استادانو ګډون کړی دی، چې ۱۳۸ تنه (۵۱،۵٪) يې نارينه او ۴۰ تنه (۱۴،۹٪) ښځينه دي. ۳۸ تنه (۱۴،۲٪) ډاکتر استادانو ګډون کړی دی، چې ۳۲ تنه (۱۱،۹٪) يې نارينه او ٦ تنه (۲،۲٪) يې ښځينه دي. ټولټال ۱٦۸ استادانو ګډون کړی دی، چې ۲۱۰ تنه (۷۸،۴٪) يې نارينه او ۵۸ تنه (۲۱،٦٪) تنه‌يې ښځينه دي. شکل ښيي چې په ځېړنه کې له نيمايي زيات(٦٦،۴٪) ګډون کوونکي استادان، ماستران دي.


## په ځېړنه کې د ګډونوالو تحصلي رشته




دریم انځور: په ځېړنه کې د ګډونوالو تحصیلي رشته

په (۳) شمېره انځور کې ښکاري، چې په ځېړنه کې (۱۳۹) تنو (۵۱,۹٪) د ټولنیزو علومو ځانګو استادانو کړی، چې ۱۰۷ تنه (۳۹،۹٪) یې نارینه او ۳۲ تنه (۱۱،۹٪) یې ښځینه دي. (۱۲۹) تنو (۴۸,۱٪) د طبیعي علومو ځانګو استادانو ګډون کړی دی، چې ۱۰۳ تنه (۳۸،۴٪) یې نارینه او ۲۶ تنه (۹،۷٪) یې ښځینه دي. ارقام ښیي چې په ځېړنه کې له نیمایي ډېرو، د ټولنیزو علومو اړوند ځانګو استادانو ګډون کړی دی.

## په خېړنه کې د ګډونوالو(استادانو) علمي رتبې




| | جنسیت | | | | توټال | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | | ښځینه | | | |
| | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه |
| پوهیالی | ۱۳ | ٤,۹% | ۲ | ,۷% | ۱۵ | ٥,٦% |
| پوهنیار | ۹۲ | ۳٤,۳% | ۲۳ | ۸,٦% | ۱۱٥ | ٤۲,۹% |
| پوهنمل | ٥۲ | ۱۹,٤% | ۱٥ | ٥,٦% | ٦۷ | ۲٥,۰% |
| پوهندوی | ۳۰ | ۱۱,۲% | ۱٥ | ٥,٦% | ٤٥ | ۱٦,۸% |
| پوهنوال | ۹ | ۳,٤% | ۳ | ۱,۱% | ۱۲ | ٤,٥% |
| پوهاند | ۱٤ | ٥,۲% | ۰ | ۰,۰% | ۱٤ | ٥,۲% |
| توټال | ۲۱۰ | ۷۸,٤% | ٥۸ | ۲۱,٦% | ۲٦۸ | ۱۰۰,۰% |

خلورم انځور: په خېړنه کې د ګډونوالو (استادانو) علمي رتبې

(۴) شمېره انځور ښيي، چې په خېړنه کې ۱۵ تنه (٥،٦٪) پوهیالیو استادانو ګډون کړی، چې ۱۳ تنه (۴،۹٪) يې نارینه او ۲ تنه (۰،۷ ٪ ) يې ښځینه دي. ۱۱۵ تنه (۴۲،۹٪) پوهنیار استادانو ګډون کړی، چې ۹۲ تنه (۳۴،۳٪) يې نارینه او ۲۳ تنه (۸،٦٪) يې ښځینه دي. ٦۷ تنه (۲۵،۰٪) پوهنمل استادانو ګډون کړی، چې ۵۲ تنه (۱۹،۴٪) يې نارینه او ۱۵ تنه (٥،٦٪) يې ښځینه دي. ۴۵ تنه (۱٦،۸٪) پوهندوی استادانو ګډون کړی، چې ۳۰ تنه (۱۱،۲٪) يې نارینه او ۱۵ تنه(٥،۷٪) يې ښځینه دی. ۱۲ تنه (۴،۵٪) پوهنوال استادانو ګډون کړی، چې ۹ تنه (۳،۴٪) يې نارینه او ۳ تنه (۱،۱٪) يې ښځینه دي او ۱۳ تنه (٥،۲٪) پوهاند استادانو ګډون کړی، چې ۱۴ تول نارینه دي. ارقام ښيي چې په خېړنه کې اکثریت ګډون کوونکي پوهنیاران دي.


### ب) د اطلاعاتو استنباطي شننه Infrential Descriptive

د څېړنې په استنباطي شننه کې د استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک معلومولو لپاره له مکررو اندازو تحلیل واریانس (Repeated Measures Define Factor) ټیسټ څخه ګټه اخیستل شوې.

همدارز، د استادانو جنسیت او تحصیلي رشتې (چې اسمي متغیرونه دي) او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو(مداخله‌ګر سبک، تعاملي سبک او غیرمداخله‌ګر سبک) ترمنځ اړیکه مو د خپلواک تي ټیسټ (Independent- Samples T Test) په‌واسطه معلومه کړې ده. په لاندې جدولونو کې په ترتیب سره د استادانو غالب مدیریتي سبک، جنسیت او زده‌کړو څانګې، او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکه تحلیل شوې ده.

**د څېړنې اصلي پوښتنه:** د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک کوم دی او د استادانو جنسیت او تحصیلي رشته د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو سره څه اړیکه لري؟

د استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک معلومولو لپاره له مکررو اندازو تحلیل واریانس (Repeated Measures Define Factor) ټېسټ ګټه اخیستل شوې ده. د استادانو ځانګړنو او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکې معلومولو لپاره له مختلفو ټېستونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.




پنځم انځور: د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیرتي سبك

په پورتني جدول کې څرګندېږي چې د مداخله‌ګر سبک اوسط **۲۶،۰۴** له **۳،۳۹** معیاري انحراف سره، د مشارکتي سبک اوسط **۲۳،۱۵** له **۳،۳۳** معیاري انحراف سره او د غیرمداخله‌ګر سبک اوسط **۲۵،۸۵** له **۳،۷۱** معیاري اوسط سره ترلاسه شوی دی. څرنګه چې د مداخله‌ګر سبک اوسط تر ټولو لوړ دی؛ نو ډېری استادان مداخله‌ګر مدیریتي سبک لري.

**د څېړنې فرعي پوښتنې**

**لومړۍ پوښتنه:** آیا د جنسیت له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونه معنالرونکی توپیر لري؟

لومړۍ پوښتنې ته د ځواب لپاره، له خپلواک ټي ټېسټ (Independent - Samples T Test) څخه ګټه اخیستل شوې، ترڅو د جنسیت له مخې د هغوی اوسطونه او د معناداری کچه معلوم شي.

لومړی جدول: نارینه او ښځینه استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک پرتلنه

| متغییر | جنسبت | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T کچه | ازادۍ درجه | د معناکچه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مداخله‌گر سبک | نارینه | ۲۱۰ | ۲۵،۷۷ | ۲،۵۹ | -۰،۹۵ | ۲۶۶ | ۳۲۱،۰ |
| | ښځینه | ۵۸ | ۲۶،۱۵ | ۲،٦۰ | | | |
| تعاملي سبک | نارینه | ۲۱۰ | ۲۲،۸۴ | ۳،۲۴ | -۰۳۸،۳ | ۲٦٦ | ۰،۰۰۳ |
| | ښځینه | ۵۸ | ۲۴،۳۱ | ۳،۳۰ | | | |
| غیرمداخله‌گر سبک | نارینه | ۲۱۰ | ۲۵،٦۴ | ۳،٦۹ | -۰،۹۹۲ | ۲٦٦ | ۳۲۲،۰ |
| | ښځینه | ۵۸ | ۲٦،۱۸ | ۳،٦۵ | | | |

د (۱) شمېرې جدول پر بنسټ، کولای شو ووایو چې د نارینه استادانو د مداخله‌گر سبک اوسط ۲۵،۷۷ له ۲،۵۹ معیاري انحراف سره او د ښځینه استادانو د مداخله‌گر سبک اوسط ۲٦،۱۵ له ۲،٦۰ معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی. دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۲٦٦ ازادۍ درجه کې ۰،۳۲۱ معنالرونکی په لاس نه دی راغلی. په تعاملي سبک کې د نارینه استادانو اوسط ۲۲،۸۴ له ۳،۲۴ معیاري انحراف سره او د ښځینه استادانو اوسط ۲۴،۳۱ له ۳،۴۰ معیاري انحراف سره متفاوت لاسته راغلی دی، چې دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۲٦٦ ازادۍ درجه کې ۰،۰۰۳ معنالرونکی په لاس راغلی. په غیرمداخله‌گر سبک کې د نارینه استادانو اوسط۲۵،٦۴ له ۳،٦۹ معیاري انحراف سره او د ښځینه استادانو اوسط ۲٦،۱۸ له ۳،۳۰ معیاري انحراف سره لاسته راغلی. دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۲٦٦ ازادۍ درجه کې ۰،۳۲۲ معنالرونکی په لاس نه دی راغلی.

دوم جدول: د نارینه او ښځینه استادانو د درسي ټولګي مدیریت پرتلنه

| متغییر | جنسیت | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T کچه | د ازادۍ درجه | د معنا کچه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولګي مدیریت | نارینه | ۲۱۰ | ۷۴،۲٦ | ۷،٦۸ | -۲،۱۰۴ | ۲٦٦ | ۰،۰۳٦ |
| | ښځینه | ۵۸ | ۷٦،٦۵ | ۷،٦۲ | | | |

د پورته (2) شمېرې جدول پر بنسټ، کولای شو ووایو چې د نارینه استادانو د درسي ټولګي مدیریت اوسط ۷۴،۲٦ له ۷،٦۸ معیاري انحراف سره او د ښځینه استادانو د درسي ټولګي مدیریت اوسط ۷٦،٦۵ له ۷،٦۲ معیاري انحراف سره متفاوت لاسته راغلی دی. دغه توپیر، د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۲٦٦ ازادۍ درجه کې ۰،۰۳٦ معنالرونکی په لاس راغلی دی. په‌دې معنا چې د نارینه استادانو د ټولګي مدیریت

نمرې اوسط د ښځینه استادانو د ټولګي مدیریت نمرو له اوسط څخه لږ دی او تعاملي سبک خوا ته تمایل لري؛ یعنې نارینه استادان د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو کې د تعاملي سبک خوا ته ډېر تمایل لري.

**دومه پوښتنه:** ایا د استادانو د تحصیلي رشته د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک اغېز لري؟

څېړنه په کابل پوهنتون کې چې ۲۱ پوهنځي لري، ترسره شوې، پوهنځي عبارت دي له: انجینیري، وترنري علوم، ځمکپېژندنه، فارمسي، کرنه، کېمیا، بیولوژي، ریاضیات، د اوسېدوچاپېریال ساتنه، کمپیوټر ساینس او اطلاعاتي او معلوماتي ټکنالوژي، شرعیات، ادبیات، ژورنالېزم، ښکلي هنرونه، اقتصاد، حقوق او سیاسي علوم، ارواپوهنه او روزنیز علوم، ټولنیز علوم او عامه اداره او پالیسي. له دې یوویشت(۲۱) پوهنځیو کې ځینې‌یې د ټولنیزو علومو اړوند څانګې دي او ځینې د طبیعي علومو اړوند څانګې دي، چې په لاندې ډول دي:

**طبیعي علومو اړوند پوهنځي:** انجینیري، وترنري‌علوم، ځمکپېژندنه، فارمسي، کرنه، کېمیا، بیولوژي، ریاضیات، د اوسېدوچاپېریال ساتنه، کمپیوټرساینس او اطلاعاتي او معلوماتي ټکنالوژي.

**ټولنیزو علومو اړوند پوهنځي:** شرعیات، ادبیات، ژورنالېزم، ښکلي هنرونه، اقتصاد، حقوق او سیاسي علوم، ارواپوهنه او روزنیز علوم، ټولنیز علوم او عامه اداره او پالیسي.

د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د زده‌کړو څانګې اغېز او اړیکې معلومولو لپاره له خپلواک تي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې ده، چې پایلې‌یې په (۱٦) شمېره جدول کې ښودل شوې دي.

دریم جدول: د ټولیزو علومو اړوند او طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادانو د مدیریت پرتلنه

| متغییر | زده‌کړو ځانګه | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T کچه | د ازادۍ درجه | د معنا سطحه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مداخله‌ګر سبک | ټولنیز علوم | ۱۳۹ | ۲۵،۴۵ | ۲،۵۸ | -۲،٦۵ | ۲٦٦ | ۰،۰۰۸ |
| | طبیعي علوم | ۱۲۹ | ۲٦،۱۸ | ۲،۵۵ | | | |
| تعاملي سبک | ټولنیز علوم | ۱۳۹ | ۲۲،۷۰ | ۳،۰٦ | -۲،۳٦ | ۲٦٦ | ۰،۰۱۹ |
| | طبیعي علوم | ۱۲۹ | ۲۳،٦۵ | ۳،۴۹ | | | |
| غیرمداخله‌ګر سبک | ټولنیز علوم | ۱۳۹ | ۲۵،۸۲ | ۳،۲۴ | ۰،۲۸ | ۲٦٦ | ۰،۷۷۴ |
| | طبیعي علوم | ۱۲۹ | ۲۵،٦۹ | ۴،۱۱ | | | |

د (3) جدول پر بنسټ، ویلای شو چې د ټولنیزو علومو پوهنځیو استادانو د مداخله‌ګر سبک نمرو اوسط **۲۵،۴۵** دی، له **۲،۵۸** معیاري انحراف سره او د طبیعي علومو پوهنځیو استادانو د مداخله‌ګر سبک نمرو اوسط **۲٦،۷۰** دی، له **۲،۵۵** معیاري انحراف سره. یاد توپیرونه د ترلاسه شوې ټي (T) کچې د **۲٦٦** ازادۍ درجه کې په **۰،۰۰۸** معناداری کچه معنالرونکی په لاس راغلی دی. یعنې د ټولنیزو علومو پوهنځیو استادانو د مداخله‌ګر سبک نمرو اوسط، د طبیعي علومو پوهنځیو استادانو د مداخله‌ګر سبک نمرو اوسط څخه لږ دی، چې د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري.

د ټولنیزو علومو پوهنځیو استادانو د تعاملي سبک نمرو اوسط **۲۲،۷۹** دی، له **۳،۰٦** معیاري انحراف سره او د طبیعي علومو پوهنځیو استادانو د تعاملي سبک نمرو اوسط **۲۳،٦۵** دی، له **۴،۴۹** معیاري انحراف سره. یاد توپیرونه د ترلاسه شوې ټي (T) کچې د 266 ازادۍ درجه کې په **۰،۰۱۹** معناداری کچه معنالرونکی په لاس راغلی دی. یعنې د ټولنیزو علومو پوهنځیو استادانو د تعاملي سبک نمرو اوسط، د طبیعي علومو پوهنځیو استادانو د تعاملي سبک نمرو اوسط څخه لږ دی، چې د تعاملي سبک خوا ته

تمایل لري. د تولنیزو علومو پوهنځیو استادانو د غیرمداخله‌گر سبک اوسط ۲۵،۸۲ دی، له ۳،۲۴ معیاري انحراف سره او د طبیعي علومو پوهنځیو استادانو د غیرمداخله‌گر سبک اوسط ۲۵،۶۹ دی له ۴،۱۱ معیاري انحراف سره. یاد توپیرونه د ترلاسه شوې تې (T) کچې د 266 ازادۍ درجه کې په ۰،۷۷۴ معناداری کچه کې معنالرونکي په لاس نه دي راغلي.

څلورم جدول: د ټولنیزو علومو اړوند او طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت پرتلنه

| متغییر | زده‌کړو ځانګه | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T کچه | د ازادۍ درجه | د معنا کچه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مدیریت سبک | ټولنیز علوم | ۱۳۹ | ۷۳،۹۸ | ٦،۹۷ | -۱،۷۵۵ | ۲٦٦ | ۰،۰۸۰ |
| | طبیعي علوم | ۱۲۹ | ۷۵،٦۳ | ۸،۳ | | | |

په (4) شمېرې جدول کې لیدل کېږي چې د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط ۷۳،۹۸ دی، چې معیاري انحراف‌یې ٦،۹۷ دی او د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط ۷۵،٦۳ له ۸،۳ معیاري انحراف سره. دغه توپیر د ترلاسه شوې تې (T) کچې د ۲٦٦ ازادۍ درجه کې په ۰،۰۸۰ معناداری کچه کې معنالرونکی په لاس نه دی راغلی.

څرنګه چې د ټولنیز علومو پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت اوسط د طبیعي علومو ځانګو استادانو د ټولګي مدیریت له اوسط څخه لږ دی، او تعاملي سبک خوا ته تمایل لري. په بل عبارت، د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره تعاملي سبک او د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره مداخله‌گر سبک لري.

## د څېړنې موندنې

د څېړنې پایلو وښوده چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک، مداخله‌گر سبک دی. د نارینه استادانو د ټولګي مدیریت نمرې اوسط د ښځینه استادانو د ټولګي مدیریت له اوسط څخه لږ دي او تعاملي سبک خوا ته تمایل لري؛ یعنې نارینه استادان د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو کې د تعاملي سبک خواته ډېر تمایل لري. د ټولنیز علومو اړوند پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت اوسط د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادانو د ټولګي مدیریت له اوسط څخه لږ دی، چې تعاملي سبک خوا ته تمایل لري. په بل عبارت، د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره تعاملي سبک او د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره مداخله‌گر سبک لري.

**مناقشه**

د څېړنې موندنې ښيي چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مديريتي سبک، مداخله‌گر سبک دی، يعنې ډېری استادان له مداخله‌گر مديريتي سبک څخه کار اخلي. د څېړنې دا موندنه د عالي او يزدي څېړنې له موندنې سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې د ايران په مشهد ښار کې «د ټولګي پر مديريتي سبک د معلم ځانګړنو اغېز» تر سرليک لاندې څېړنه ترسره کړې ده، پايلې يې ښيي، چې اکثريت ښوونکي مداخله‌گر سبک خوا ته تمايل لري. په‌دې معنا چې د ښوونکو غالب مديريتي سبک، مداخله‌گر سبک دی (عالي او يزدي، ۱۳۸۷، ص۱۲۳). خو د څېړنې ياده موندنه، د کاظمی، سيما؛ محمدي، يحيی او رئيسون، محمد رضا د څېړنې له موندنې سره توپير لري. هغوی په کال (۱۳۹۴) کې په ايران هېواد کې (د محصلانو له نظره د بيرجند طبي علومو پوهنتون استادانو د ټولګي مديريتي وضعيت څېړنه» تر سرليک لاندې څېړنه کړې؛ پايلې يې ښيي، چې ډېری استادانو له تعاملي سبک څخه ګټه اخيسته (کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ص ۳۱).

څېړنې د لومړۍ پوښتنې په اړه وښوده، چې نارينه استادان د درسي ټولګي مديريتي سبکونو کې د تعاملي سبک خوا ته ډېر تمايل لري؛ خو ښځينه استادانې بيا د مداخله‌گر سبک خوا ته تمايل لري. د څېړنې دا پايله د عالي او يزدي د څېړنې سره توپير لري. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې په ايران هېواد، مشهد ښار کې «د ټولګي پر مديريتي سبک د معلم ځانګړنو اغېز» تر سرليک لاندې څېړنه ترسره کړې؛ پايلې يې ښيي، چې د نارينه او ښځينه استادانو د درسي تولګي مديريت سبک ترمنځ توپير نه‌شته (عالي او يزدي، ۱۳۸۷، ص۱۲۷). همداراز، مارتين او همکارانو (۱۹۹۵) هم«د نارينه ښځينه ښوونکو او ښاري او کليوالي ښوونځيو ښوونکو د ټولګي مديريتي سبک توپير» تر سرليک لاندې څېړنه کې وموندله، چې د ښوونکو د جنسيت او درسي ټولګي مديريتي سبکونو ترمنځ معنا لرونکی توپير نه‌شته (مارتين او همکاران، ۱۹۹۹). د څېړنې موندنه، د ظريفي او فرجي د څېړنې د موندنې سره توپير لري. هغوی په کال ۱۳۹۳ کې په آذربايجان کې «د شرقي آذربايجان په ابتدايه لارښوونې او متوسطه دورو کې د بدني روزنې ښوونکو د درسي ټولګي مديريت پرتلنه» ترسرليک لاندې څېړنه ترسره کړې؛ پايلې يې ښيي، چې په مختلفو تحصيلي دورو کې د نارينه او ښځينه ښوونکو د مديريتي سبک ترمنځ معنالرونکی توپير نه‌شته (ظريفي او رضا، ۱۳۹۳؛ صص ۴۰، ۴٦). بخشايش په ۱۳۹۲ کال کې «د يزد ښار د ابتدايه ښوونځيو ښوونکو د شخصيتي ځانګړنو او درسي ټولګي مديريت سبکونو اړيکه» تر سرليک لاندې څېړنه ترسره کړې؛ پايلې يې ښيي، چې نارينه او ښځينه ښوونکو د درسي ټولګي د مديريت سبک له اړخه يو له بل سره توپير نه‌درلود (بخشايش، ۱۳۹۲، ص۱۹۳). د څېړنې موندنه، د مهر، کريم زاده او ناظم څېړنې له موندنې سره

توپیر لري. هغوی په کال ۱۳۹۴ کې د «د خوی ښار مدیرانو او ښوونکو د درسي ټولګي پر مدیریت د اغېزناکو عواملو پېژندنه» تر سرلیک لاندې څېړنه کړې؛ پایلې یې ښیي، چې د نارینه او ښځینه ښوونکو د ټولګي مدیریتي سبک کې توپیر نه‌شته( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ص ۱۸۰).

مارتین او همکارنو (۱۹۹۹)، «د ښاري او کلیوالي منځنیو ښوونځیو د نارینه او ښځینه ښوونکو د مدیریتي سبکونو توپیر» څېړلی. موندنې ښیي چې د جنسیت له مخې د نارینه او ښځینه استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ معنا لرونکی توپیر نه‌شته(مارتین او همکاران، ۱۹۹۹).

د دویمې پوښتنې په اړه د څېړنې موندنې ښیي، چې د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره تعاملي سبک او د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادان تر ډېره مداخله‌ګر سبک لري. د څېړنې دا موندنه د عالي او یزدي د څېړنې له موندنې سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې په ایران هېواد، مشهد ښار کې «د ټولګي پر مدیریتي سبک د معلم ځانګړنو اغېز» تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې ده. پایلې یې ښیي، چې د زده‌کړو ځانګې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریت سبک توپیر معنالرونکی دی. هغو ښوونکو چې ښوونې او روزنې اړوند څانګو کې یې زده‌کړې کړې، له تعاملي سبک او هغوی چې په نا اړوند څانګو کې یې زده‌کړې کړې، مداخله‌ګر سبک ته تمایل لري(عالي او یزدي، ۱۳۹۴، ص۱۰۳). لنګرودي او سلېماني (۱۳۹۲) هم، په‌خپله څېړنه کې وښوده، چې د زده‌کړو څانګې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر معنالرونکی دی؛ یعنې هغو ښوونکو چې د ښوونې او روزنې اړوند څانګو کې یې زده‌کړې دي، ډېری تعاملي سبک ته تمایل لري او هغه ښوونکي چې د ښوونې او روزنې نااړوند څانګو کې یې زده‌کړې کړې دی، ډېری د درسي ټولګي مداخله‌ګر مدیریتي سبک لري (لنګرودي او سلېماني، ۱۳۹۲، ص۱۱۵).

**پایلې**

دغه څېړنه چې (د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز څېړل) ترسرلیک لاندې په کابل پوهنتون کې ترسره شوې، د درسي ټولګي پرمدیریتي سبک (مداخله‌ګر سبک، غیر مداخله‌ګر سبک او تعاملي سبک) د استادانو د جنسیت او تحصیلي رشتې اغېز څېړل شوی دی.

په مداخله‌ګر سبک کې ښوونکی د زده‌کوونکو پر فعالیتونو او کړنو کنټرول لري. په دغه سبک کې ټول تصمیمونه ښوونکی نیسي. زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهیر کې هېڅ واک او مسئولیت نه احساسوي او په دې اند دي، چې یوازې ښوونکی کولای‌شي د هغوی کړنې کنټرول، څار او اصلاح کړي. یاد سبک په بشپړ ډول معلم محور دی. په تعاملي سبک کې، ښوونکی فعالیتونه نه معلم محور دي او نه هم شاګرد محور، بلکې مرسته محور دي. په بل عبارت، د تعاملي سبک پر بنسټ، په درسي ټولګي کې د کار اصلي

محور او بنسټي اصل د ښوونکي او زده‌کوونکي ترمنځ مرسته او ګډون دی. په غیرمداخله‌ګر سبک کې، ښوونکی مسئوولیتونه زده‌کوونکو ته ورسپاري او هغوی ازاد پرېږدي. البته دا د مطلقې ازادۍ په معنا نه ده، بلکې زده‌کوونکو ته اجازه ورکوي چې د مطالعې موادو په ټاکنه، د مطالعې او تدریس مېتود په تعیینولو او ټولګي نظم ساتلو کې ګډون ولري.

د څېړنې پایلو وښوده، چې د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیریتي سبک، مداخله‌ګر سبک دی. په دویم قدم کې له غیرمداخله‌ګر مدیریتي سبک او په درېیم قدم کې له تعاملي مدیریتي سبک څخه کار اخلي. د جنسیت له مخې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر لري. نارینه استادان د درسي ټولګي مدیریت کې تعاملي سبک خوا ته تمایل لري، په داسې حال کې چې ښځې استادانې د نارینه استادانو په نسبت، ډېرې مداخله‌ګر سبک ته تمایل لري. همدارنګه، د زده‌کړوځانګې پر بنسټ د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکه معنالرونکې ده، یعنې د ټولنیزو علومو اړوند ځانګو استادان تر ډېره تعاملي سبک او د طبیعي علومو اړوند ځانګو استادان، تر ډېره مداخله‌ګر سبک لري. په ټوله کې د دې څېړنې د اهمیت وړ پایلې دا دي، چې په کابل پوهنتون کې اوس هم تر ډېره په درسي ټولګیو کې د استادانو لخوا مداخله‌ګر (استاد محور او مستبد) مدیریتي سبک حاکم دی. ښځینه استادانې مداخله‌ګر او نارینه تعاملي سبک لري. د ټولنیزو علومو اړوند پوهنځیو استادان تعاملي سبک لري، په داسې حال کې چې د طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادان له مداخله‌ګر مدیریتي سبک څخه ګټه اخلي.

### د څېړنې بهیر کې محدودیتونه او ستونزې

هېڅ داسې څېړنه به ونه موندل شي چې له محدودیتونو خالي وی. یاده څېړنه هم په ځینو برخو کې له محدودیتونو سره مخ وه، چې عبارت دي له:

1. د څېړنې د ساحې پراخوالی؛
2. د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو په اړه د علمي او څېړنیزو اثارو نه‌شتون؛
3. د ورته څېړنې نه شتون، چې تر اوسه په هېواد کې د ننه د اړوند موضوع په اړه څېړنه نه‌ده ترسره شوې؛
4. د موادو کمښت او سرچینو ته نه‌لاسرسی؛
5. د څېړنې د ترسره کېدو برخه کې د مرستې فرهنګ نه شتون او علمي څېړنو ته اهمیت نه ورکول؛
6. د پوښتن‌پاڼې ډکولو برخه کې د ځینو استادانو لخوا په صادقانه ډول مرسته نه کول او کم علاقه‌توب.

په څېړنه کې د ټولو محدودیتونو سره سره هڅه وشوه، چې د امکان تر کچې دقیق او سم اطلاعات او معلومات را ټول کړل شي.

**وړاندیزونه**

څرنګه چې د کابل پوهنتون ډېری استادان د درسي ټولګي مداخله‌ګر مدیریتي سبک لري او د (زده‌کړو کچه او زده‌کړو ځانګه) د استادانو د درسي ټولګي له مدیریتي سبک سره اړیکه لري؛ نو همدې ټکو ته په پام سره لاندې وړاندیزونه کېږي:

1. لوړو زده‌کړو وزارت دې د افغانستان د ټولو پوهنتونونو استادانو ته د درسي ټولګي مدیریت په اړه ښوونیز ورکشاپونه دایر کړي؛
2. کابل پوهنتون دې له ډاکټري او لږ تر لږه ماسټري زده‌کړو ټیټې کچې استادان، نه استخداموي؛
3. کابل پوهنتون دې ټولو په ځانګړي ډول طبیعي علومو اړوند پوهنځیو استادانو ته د درسي ټولګي مدیریت په اړه ورکشاپونه دایر کړي.

د درسي ټولګي مدیریت اهمیت ته په پام سره، د ارواپوهنې او روزنیزو علومو برخه کې څېړونکو ته لاندې څېړنیز موضوعات وړاندیز کېږي:

1. د زده‌کوونکو پر زده‌کړه د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو اغېز څېړل؛
2. د هېواد په مختلفو پوهنتونونو کې داستادانو د درسي ټولګي د غالب مدیریتي سبک پېژندل؛
3. په کابل پوهنتون او نورو پوهنتونونو کې د استادانو د ټولګي پر مدیریتي سبک د اغېزناکو لاملونو پېژندل.

**سرچینې**


- افشارنیا، معصومه؛ عباسی، رضا او دسترنج، مرتضی. (۱۳۹۷). بررسی مدیریت کلاس درس و روش کلاس‌داری معلمان در مدارس ومراکز آموزشی. دو ماهنامه علمی تخصصی تحقیق در هنر و علوم انساني، سال سوم، شماره۲، جلد دو.
- بخشایش، علیرضا. (۱۳۹۲). رابطه سبک های مدیریت کلاس با ویژگی های شخصیتی معلمان مدارس ابتدایی یزد. فصلنامه علمی – تحقیقی رهیافتی در مدیریت آموزشی، سال چهارم، شماره دوم، صص ۱۸۵ – ۱۹۸.
- جعفري، اسماعیل؛ خراساني، اباصلت او عبدي، حمید. (۱۳۹٦). الگوی ساختاري رابطه ی شایستگي و خودکارآمدي مدیریتي درس و نگرش مدیریت کلاس درس در اعضای هیأت علمي. مجله ی توسعه ی آموزش در علوم پزشکی. دوره ۱۰، شماره ۲٦، صص ۱۰- ۲۳.
- جویس، بروس وویل، مارشا. (۱۳۷٦). الگوهای جدید تدریس. ترجمه، بهرنگي، محمد رضا. تهران: نشر تابان.
- رضایت، غلامحسین او گلي، حسن. (۱۳۹۵). رابطه بین خود کارآمدی با سبک مدیریت کلاس اعضای هیئت علمی پوهنتون‌ها و مؤسسات آموزش عالی(مطالعه موردی؛ یکی از مراکز آموزش عالی نیروهای مسلح. فصلنامه روانشناسی نظامي، دوره ۷، شماره ۲۵. صص ٥۱-٦٦.
- سید عباس، میرمحمد. (۱۳۷۴). معلمان و روشهای کنترول کلاس. مجله علوم تربیتی پوهنتون تهران، شماره ۱۵، ص۱۲.
- سیف، علی اکبر. (۱۳۸۸). روانشناسی پروزشی(روانشناسی یادگیری و آموزش). تهران: انتشارات آگه.
- شمس، غلامرضا. (۱۳۹٦). مبانی و اصول مدیریت آموزشی. تهران: انتشارات سازمان مطالعه و تدوین(سمت).
- ظریفي، مجتبی او فرجي، رضا. (۱۳۹۳). مقایسه شیوه مدیریت و کلاس داری معلمان تربیت بدنی در مقاطع تحصیلي ابتدایی، راهنمایی و متوسطه استان آذربایجان شرقي. مجله علوم کاربردی ورزش و تندرستي. شماره ۱، صص ۴۰- ۴۸.
- عالي، آمنه او امین یزدي، امیر. (۱۳۸۷). تاثیر ویژگی های معلم بر سبک مدیریت کلاس. فصلنامه تعلیم و تربیت. شماره ۳۹. صص ۱۰۳- ۱۳۵.
- غیاثوندیان، شهزاد؛ ورعي، شکوه؛ یادگاري، محمد علي؛ رحیمي، اکبر پور او جانلو، علي آقا. (۱۳۹٦). مدیریت کلاس درس برای آموزش محصلان بی انگیزه. مجلۀ مرکز مطالعات و توسعه آموزش علوم پژشکي یزد. دوره دوازدهم، شماره ۱ و ۳، صص ۱۳- ۲٦.
- کاظمی، سیما؛ محمدي، یحیی او رئیسون، محمد رضا. (۱۳۹۴). بررسی وضعیت مدیریت کلاس اساتید پوهنتون علوم پزشکی بیرجند از دیدگاه محصلان. تحقیق در آموزش علوم پزشکی، شماره ۷.
- لنگرودي، کاظم علوي او سلېماني، زهرا. (۱۳۹۲). مقایسه باورها و نگرش‌ها معلمان پیرامون مدیریت کلاس با توجه به ویژگي‌های دموگرافیک. فصلنامه علمی – تحقیقی رهیافتی نو در مدیریت آموزشی، شماره ۲، تابستان ۹۲. صص ۱۱۵- ۱۳٦.
- محمودي، محمد تقي؛ خادمي، بهناز او الله گاني، فریبا. (۱۳۹٦). بررسی و شناسایی شیوه های مؤثر ایجاد مدیریت و انضباط کلاس. مطالعات آینده پژوهی و سیاستگذاری. دوره ۳، شماره ۳، صص ۱۷- ۲۸.
- مرتضوي زاده، حشمت الله. (۱۳۹۲). راهنمایی تدریس. تهران: انتشارات عابد.
- مصرابادي، جواد. (۱۳۹۴). نقش سبک های تدریس معلمان بر میزان بی انضباطی های دانش‌آموزان: تحلیل مبتنی بر شخص. فصلنامه علمي – تحقیقي رهیافتی نو در مدیریت آموزشی، سال ششم، شماره دوم، صص ۱۸۹- ۲۰۵.

- مهر، محمد وفايي؛ كريم زاده، صمد او ناظم، فتاح. (۱۳۹۴). شناسایی عوامل مؤثر بر مدیریت کلاس معلمان و مدیران شهرستان خوی. فصلنامه علمی – تحقیقی تحقیقات مدیریت آموزشی، سال هفتم، شماره اول، صص ۱۶۹-۱۸۴.
- ولفگانگ، چارلز اچ. (۱۳۹۳). حل مسایل بی انضباطي و مدیریت صنف (روش‌ها و الگوها برای معلمان). مترجمان، اسدپور، ساسان او واسو کلايي، سید رمضاني. تهران: انتشارات مدرسه.
- Adeyemo, S. A. (2012). The relationship between effective classroom management and students' academic achievement. *European Journal of Educational Studies*, 4(3), 367-381.
- Ali A. [Impact of teacher characteristics on classroom management style. Quarterly Education] (Education); 2007. [Persian]
- Fontana D. [Classroom control: understanding and quiding classroom behaviour]. Translated byHamzeh S, Mohammadi M. Tehran: Roshd; 2003. [Persian]
- Haghani F, Chavoshi E, Valiani A, Yarmohammadian M. Teaching Styles of Teachers in Basic Sciences Classes in Medical School of Isfahan University of Medical Sciences. Iranian Journal of Medical Education. 2011; 10 (5), pp934-949. [Persian]
- Martin, N. K. & Yin, Z. Belief Regarding Classroom Management Styles: Different Between Urban and Rural Secondary Level Teachers. Journal of Research in Rural Education, 15 (2) PP 1-5).
- Martin, N. K., & Y, Z. (1999). Belief Regarding Classroom Management, Middle School. Journal 28, (4), PP 3-9.
- Martin, N. K., Shoho, A. & Yin, Z. (2003). Attitude & Beliefs Regarding Classroom Management Styles: The impact of Teacher preparation vs. Experience. Research in the school. 10(2), 29-34
- Nakammura, Raymond M. (2000). *Healthy Classroom Management*. Wadsworth /Thomson Learning. Canada.
- Pithers, R. T., & Soden, R. (1998). Scottish and Australian teacher stress and strain: A comparative study. *British Journal of Educational Psychology*, 68, pp269–279.